

## ښوونیز او کاري خونديِ چاپیریال برابرول د پوهنې وزارت د لومړیتوبونو څخه دی

د ماشومانو او ښځو د ځورونې د بندیدو د کمیټې جلسه د تعلیمي نصاب د پراختیا په معینیت کې جوړه شوه.

په پیل کې د تعلیمي نصاب او پراختیا معینیت معینې آغلې مرجان متین په خپلو خبرو کې په دې ټکي ټینګار وکړ چې تر هر څه د مخه باید د ځورونې ډولونه په ګوته او دهغه د مخنیوي لپاره کوټلي ګامونه واخیستل شي او د دغه پدیدې له منځ وړل د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د پوهنې وزارت د لومړیتوبونو څخه دی وروسته د جندر آمریت سر پرستې آغلې فرشته سادات د موضوع په اړه خبرې وکړې په دې خبره یې ټینګار وکړ چې په هیواد کې د هر وکړي دنده ده ترڅود ښځو او ماشومانو په وړاندې د تاوتریخوالي او ځورونې مخنیوی وکړي آغلې سادات د ښځو او ماشومانو په وړاندې د ځورونې د بندیدو کمیټې ته یې سپارښتنه وکړه چې د خپلو دندو پر وړاندې مسوولیت منونکي اوسي او د نوموړو قضیو سره د مخ کیدو په صورت کې د حل لپاره یوه غوره لار ومومي وروسته د کمیټې غړو خپل اندونه او نظریات د ګډونوالو سره د کمیټې د کړونو د ودې په خاطر شریک او د ځورونې د بدو راتلونکو څخه د خبرداری او مخنیوی په اړه بحث وشو شونې ده چې د نوموړې کمیټې غونډې په منظم ډول په هر میاشت کې دو ځلې جوړې شي.